بسم الله الرحمن الرحيم

# د مسجدالاقصی او قدس د یهودي کولو طرحه؛ د مسلمانانو مسوولیت څه دی!؟

## (پینځمه برخه)

## (ژباړه)

په تېره برخه کې مو په عام ډول د اسلامي امت او په ځانګړي ډول د مسجدالاقصی مبارکې خاورې، قدس او شاوخوا سیمو پر وړاندې یې د صلیبي جګړو په اړه بحث وکړ، په دې برخه کې د دې لړۍ پر پنځمه زاویه بحث کوو:

د خلافت تر سقوط وروسته د برېتانیا د حاکمیت پر مهال د اسلامي امت پر وړاندې د غرب او صهیونېزم جګړې پای ته ونه رسېدې، بلکې له صلیبي جګړو وورسته هم په عام ډول د اسلامي امت او په ځانګړي ډول د مسجدالاقصی او قدس پر وړاندې جګړو دوام وکړ. سره له دې چې صهیونیستانو د صلاح الدین ایوبي له وفات وروسته لاسته راوړنې درلودې، خو د هغوی په مختلفو هېوادونو کې د اختلافاتو له امله له سختې ماتې سره مخ شول. په دې جګړو کې د دښمن د ماتې لامل د مسلمانانو ځواکمنتیا او د خلافت شتون و؛ هغه دولت چې تل یې د دې ډول دسیسو او جګړو پر وړاندې مبارزه کوله او پرلپسې یې شنډولې، په ځانګړي ډول د شاهي دولتونو په دور کې.

له عثماني خلافت وروسته د قدس، بیت المقدس او شاوخوا سیمو پر وړاندې کفري دسیسې، په حقیقت کې د خلافت په وروستیو کې پیل شوې وې، خو لکه مخکې مو چې وویل دغه جګړې له سختې ماتې سره مخ شوې! دا جګړې د خلافت د له منځه وړلو لپاره د غرب او نړۍ د مسیحیانو د پلانونو او طرحو ښکاره دلیل و، چې له دې لارې یې غوښتل د بیت المقدس پر وړاندې خپل پلانونه عملي او د نړۍ صهیونیستانو ته خدمت وکړي. صلیبیان په اوومه صلیبي جګړه کې د مصر پر کنانه د برید په فکر کې شول، تر څو له هغې لارې بیت المقدس او د قدس ښار ته لار پیداکړي. دا د فرانسې د پاچاه او د دې برید د قومندان نهم لویس نقشه وه. څکه مصر د تاریخ په اوږدو کې د قدس مبارکې خاورې لپاره د فولادي سپر حیثیت درلود، خو

دغه جګړه له سختې ماتې سره مخ شوه، ډېری سرتيري او قومندانان يې ووژل شول او د فرانسې پاچاه نهم لويس هم اسير شو.

دا هغه څه وو چې د عثماني خلافت په دوران کې د پرلپسې هڅو له لارې د قدس د يهودي کولو او قدس ښار د نيولو لپاره تر سره شول، خو سلطان عبدالحميد ثاني يې پر وړاندې ودرېد او د هغوی پلانونه يې شنډ کړل، په خپلو وروستيو هڅو کې يې کله چې د صهيونيستانو مشر د يوه پلاوي په وسيله سلطان عبدالحميد ثاني ته وړانديز وکړ، چې عثماني دولت ته د پور ورکولو په بدل کې صهيونيستانو ته په فلسطين کې د اوسېدو ځای ورکړي، نو نوموړي داسې ځواب ورکړ: «ښاغلی هرتزل! ته نصيحت وکړئ چې زموږ پر لوري بل يو ګام هم پورته نه کړي. زه د دې ځمکې يوه لوېشت هم نه شم پلورلی، دا خاوره زما شخصي ملکيت نه دی، بلکې دا د ټولو مسلمانانو خاوره ده. زموږ خلکو دا خاوره د خپلو وينو په قيمت ګټلې، دا خاوره که له موږ څخه اخيستل کېږي، لومړی به زموږ په وينو لړل کېږي. يهوديان دې خپلې په ميليونونو پيسې ټولې کړي، کله چې د خلافت دولت له منځه ولاړ، بيا هغوی کولی شي له پيسو پرته يې تر لاسه کړي، خو ترڅو چې زه ژوندی يم، نو له خلافت څخه د فلسطين د بېلولو پر ځای د خپل بدن ټوټه کېدل غوره بولم، تر څو چې ژوندی يم هېڅکله به داسې ونه شي، زه به هېڅکله اجازه ورنه کړم چې پر روغ بدن جراحي عمليات ترسره شي.»

صهيونيستان په دغه وخت کې په جدي ډول د خلافت د له منځه وړلو په فکر کې شول، تر څو خپلې موخې عملي کړای شي، چې يوه موخه يې د قدس او د قدس شاوخوا سيمو يهودي کول او پر مسجد الاقصی کنټرول ترلاسه کول و. موږ دلته د خلافت د له منځه تګ پر څرنګوالي او د عثماني خلافت په سقوط کې د غرب او د هغوی د همټړونه مسلمانانو له لوري پر شوو کارونو تفصيلي بحث نه کوو، ځکه هغه بېل بحث ته اړتيا لري. خو دا وايو چې خلافت له منځه ولاړ، صليبيان خپلو هغو موخو او غوښتنو ته ورسېدل چې د سايکس ـ پيکو په هوکړه او بالفور(۱۹۱۶ـ ۱۹۱۷) په بيانيه کې راغلي وو.

خلافت وپاشل شو او په ۱۹۲۴م کال کې بشپړ سقوط شو. مسلمانان او خاورې يې وپاشل شوې، فلسطين مستعمره شو او د خلافت تر پرځېدو څو کاله مخکې د برېتانيا تر قيموميت لاندې و! هغه وخت چې په ۱۹۱۴م کې برېتانيا په رسمي ډول پر مصر

کنټرول تر لاسه کړ. بیا برېټانیوي پوځ د اډمونډ هنري ال نبي تر قوماندې لاندې له مصر څخه د قدس پر لور حرکت وکړ، چې په پایله کې عثماني پوځ د برېټانیوي پوځ پر وړاندې له مصر څخه د دفاع پر مهال په دوو پړلیسې بریدونو او له المان سره د تړون له امله ماتې وخوړه. برېټانیا قدس وروسته له هغه اشغال کړ چې عثمانیانو له ۴۰۰ کاله حاکمیت (۱۵۱۷-۱۹۱۷) وروسته د تسلیمۍ اعلان وکړ. د برېټانیوي پوځ قوماندان اډمونډ هنري ال نبي د قدس له اشغال وروسته د ښار په منځ کې ودرېد او خپله مشهوره خبره یې وکړه؛ هغه خبره چې په قدس کې د صهیونیستي غرب غوښتنې او په اسلامي خاورو کې د هغوی د جګړو حقیقت په ډاګه کوي. نوموړي وویل: «صلیبي جګړې اوس پای ته ورسېدې.» دا خبرې یې فرانسوي قوماندان «غورو» ته ډېرې ورته وې، کله چې هغه په ۱۹۲۰م کې دمشق ته داخل شو، د ستر رهبر سلطان صلاح الدین ایوبي مقبرې ته ودرېد او د تمسخر په انداز یې وویل: «د صلیبي کینې او دښمنۍ له امله ویده شه، اې صلاح الدینه موږ بیا دلته یو!» نوموړي د ایوبي قبر په لغته وواهه او دا په دې مانا وه چې صلیبي جګړې یې بیا پیل کړې او وروسته له هغه چې په منځنیو پیړیو کې یې ماتې خوړلې وه، اوس بیا بریالي شول.

کله چې انګلیس فلسطین اشغال کړ، له څنډ پرته یې د جوړې شوې طرحې پر پلي کولو کار پیل کړ او اروپايي مسیحي هېوادونو د بالفور (۱۹۱۷) په بیانیه کې برېټانیا ملګري ملتونه را وبلل او لاندې پایلې تر لاسه شوې:

1. د انګلیس تر قیمومیت لاندې د فلسطین راوستل؛ دا یوه غربي دسیسه وه چې مسیحي هېوادونو د قدس د یهودي کولو لپاره جوړه کړې وه. لکه څرنګه چې فلسطین په ۱۹۲۰م کې د انګلیس تر قیمومیت لاندې راغی او په ۱۹۲۲م کې ملګرو ملتونو په رسمیت وپېژانده، چې دا د بالفور بیانیې د بشپړولو برخه وه. په دې بیانیه کې غرب پرېکړه وکړه چې یهود فلسطین ته کډه کېدو ته وهڅوي، دا پرېکړه د قدس د یهودي کولو لپاره وه، چې یو ملي هېواد رامنځته کړي، لکه اوس یې چې وینو.
2. برېټانیا له صهیونیستي سازمانونو سره په فلسطین کې د ځمکو اخیستلو په برخه کې همکاري او اسانچاري پیل کړه، تر څو صهیونیستي سازمانونه په اسانۍ سره خپلو ګټو ته ورسېږي او په ورته وخت کې یې فلسطین ته له

اروپايي او اسلامي خاورو د يهودو د كډوالۍ بهير پيل کړ. دغه بهير همداسې دوام وکړ، چې بالاخره په ۱۹۴۸م کې یهودي رژیم تاسیس شو. همدارنګه بریتانیا له صهیونیستي سازمانونو سره خپلو همکاریو ته دوام ورکړ، تر څو هغوی د فلسطین پر پراخه ځمکه ولکه وکړي، د یهودو ګټې خوندي او هلته مېشت شي. لکه څرنګه یې چې وسله والې یهودي ډلې جوړې کړې او په ورته وخت کې یې د اصلي فلسطینیانو د وسله وال کېدو مخه ونیوله. د (الهاجانات، شتیرن، واتسل، ارغون، البالماخ او داسې نورو) صهیونیستي ډلو او سازمانونو فعالیت کاوه، خلک یې وژل او په تدریجي ډول یې خلک له خپلو سیمو او خاور څخه ایستل. دا حالت تر ۱۹۴۸م کال او تر پنځوسمې لسیزې پورې دوام وکړ. یعنې د بالفور بیانیې د پرېکړې پر اساس د یهودو د دولت د تاسیس تر اعلان پورې.

3. د بریتانیا د واکمنۍ پر مهال او تر هغه وروسته یهودانو ډېرې وحشیانه کړنې ترسره کړې، لکه په لومړيو صلیبي جګړو کې یې چې د فلسطین پر وړاندې ترسره کړې وې. هغه مهال یې د فلسطین ډېری خلک د خپلو کورونو پرېښودلو ته اړ ایستل او په مقابل کې یې له نورو هېوادونو څخه د یهودو راتګ ته لار هواره کړه. همدارنګه په ښارونو او کلیو کې یې د فلسطینیانو پر وړاندې وحشیانه کړنې ترسره کړې؛ ویې وژل، بندي یې کړل او په ډېرو ځایونو کې یې ټولوژنه وکړه، هغه کورونه یې ویجاړ کړل چې فلسطینیان یې ترې ایستلي وو او د هغوی ځمکې یې لاندې کړې. یهودو د فلسطین له ډېرو مسجدونو د څارویو او خنزیرانو غوجلې جوړې کړې او ځینې یې پر ګودامونو، موزیمونو، رسټورانټونو او د شپنیو کلبونو بدل کړل.

**لیکوال: استاد حمد طیب**

**ژباړن: حبیب الله حبیب**

**۱۴۴۳هـ.ق، د ذولقعدې ۱**

**۲۰۲۲م، د جون ۱**